د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت

ننګرهـــــــــار پوهنتـــــــون

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی

ماستـــــــــــــــرۍ برنامه

فقـــــــــهي قـــــــواعـــد

# قاعده: اقامة الحدود ورفع التنازع فى الحقوق يختص الحكام


**لارښوود استاد: دوکتور برکت الله تائب**

**ليکنه: محب الله الله يار**


کال: ۱۳۹۸هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

**خلاصه**

"اقامة الحدود ورفع التنازع فی الحقوق يختص الحكام"

په حقوقو کې د تنازعاتو حلول او حدودو قايمول يوازې حکامو او قضاتو پورې مختص دي. له متن څخه يې د حدود، تنازعات، حقوق، اختصاصوالی او حکام (چارواکي) اصطلاحات راووځي.

د نومورې قاعدې مطلب چې حدود چې په ۷ ډوله دي که په کوم شخص يې کوم ډول ثابت شي نو قاضي او رئيس جمهور ددې صلاحيت لري چې حد پرې نافذ او مرتکب يې مجازات کړي، پرته له دې بل څوک ددې صلاحيت نه لري.

په دې اړه د الله تعالی قول دی: واذا حکمتم بين الناس آن تحکمو بالعدل. ژباړه: تاسې د خلکو ترمنځ په عدل او انصاف سره پرېکړې وکړئ.

دغه راز حديث شريف مفهوم هم دی چې د امام وظيفه د حدودو قايمول او د ذکات راټول دي.

قضاء چې د اسلامي شريعت او نظام يو ترټولو مهم اړخ تشکيلوي او په کې د انساني ژوند د بقاء، حياء او دونياوي او اخروي خير موارد نغښتي، له خورا مهم ټولنيز اهميت څخه برخمنه ده. په همدې لحاظ د انساني ژوند په موقف کې قضاء ځکه حاکم او قاضي ته مختص شوې چې هرڅوک د حقيقت عمق ته رسېدلی هم نشي او نه د الله تعلی د حدودو د بشپړ پلي کولو توان هر چا سره شته، دا پوره جرآت، وظيفوي تقوی او پاکوالی غواړي.

حاکم او قاضي ته د حدودو د تطبيق صلاحيت ورکول په ټولنه کې د ټولنيز استحکام د خونديتوب پر ستره موخه ولاړ دی او حکمت يې هم همدې کې دی چې له يوه اړخه په کې د الله تعالی عبادت ښه ښکاره کېدلی شي او له بل اړخه د ټولنې د هوساينې او بيا ځل عدم تکرار تضمين شته.

له همدې کبله ده چې د رسول الله او حضرت ابوبکر صديق په خلافت کې د دې چارې لپاره کوم ځانګړی او بېل منصب نه و ټاکل شوی، هغه اشخاص چې رسول الله به د ولايتي دندې په موخه ټاکل هغوی ته به يې د قضاء د تطبيق اجازه او امر هم کوه؛ خو د حضرت عمر فاروق په زمانه کې د سياسي او ټولنيزو چارو د پراختيا پر اساس اړتيا پيدا شوه چې قضاء ته دې بې منصب د حاکم په اجازه جلا کړل شي ترڅو د ملک د حکومتولۍ چارې په منظمه او اغېزناکه بڼه مخته لاړې شي.

اوس هم د اساسي قانون د ۱۲۹ مادې د متن د صراحت له مخې په لوړو او سترو جرايمو کې د وروستي حکم پلي کېدل که څخه قضاء يې د تاييد پرېکړه کړې وي، ولسمشر تاييد ته هم اړتيا لري يعني لکه د قصاص د تطبيق پرېکړه يې ولسمشر او قضاء ته پرېښې ده.

**سریزه**

د اسلامي شریعت سیاسي نظام ته په کتو سره سړی ویلی شي چې اسلام د بشري نړۍ د اصلاح او خوندیتوب لپاره داسي کامل او بشپړ قانون رالیږلی چې نه تړې پخوا کوم امت برخمن و او نه به تړې وروسته برخمن شي. خاصکر هغه سرغړوني چې جزا ورته خپله الله تعالی ټاکلي او انسان ته یې د کمي یا زیاتي صلاحیت په کې نشته. د دې لپاره چې د حدودو د تطبیق موضوع په ښه شکل مخته لاړه شي نو الله تعالی د انسانانو ترمنځ همغه معتبرو یا د لوړ موقف لرونکو اشخاصو ته ددې چارې د تطبیق صلاحیت ورکړی او هغوی یې پر دې مامور کړي چې څه الله تعالی حکم کړی په همغه ډول دې دوی هم د امانتدارۍ د اصل له مخې پلي کړي. څو په ټولنه کې اجمتاعي نظام او عدالت په ښه او منصفانه شکل عملي شي.

په همدې خاطر ماته هم د محترم استاد لخوا د "اقامة الحدود ورفع التنازع فی الحقوق یختص الحکام"

په حقوقو کې د تنازعاتو حلول او حدودو قایمول یوازې حکامو او قضاتو پورې مختص دي. قاعده راکړل شوې چې زه به یې تر خپل وس په هغه ښه واضح کړم چې یې د قاعدې مفهوم ایجابوي.

**موخه:**

غواړم لوستونکي په دې پوی شي چې د حدودو د تطبیق صلاحیت له چا سره او څوک کولی شي دغه صلاحیت بل کوم معتبر شخص ته تفویض کړي.

دغه راز دا هم واضح کول غواړم چې د یادې قاعدې په متن کې کوم مصطلهات راځي او دا څومره د موضوع له متن سره اړخ لګوي.

**د څیړنې تګلاره**

د دې څیړنې په لیکلو کې له کتابتوني تګلارې ګټنه شوې او هڅه شوې څو هغه معتبر ماخذونه وکارول شي چې د موضوع متن او محتوا په ښه شکل روښانه کړی شي.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

د یادې قاعدې په اړه چې محترم استاد ماته د کورنۍ دندې په صفت راکړې وه، ډېره هڅه مې وکړه خو مشخص څه ددې قادې د تشریح اړوند ونه موندل شول او نه یې چا د تفسیر اړخ څیړلی و؛ ما یې د محتوا مطابق د خپل وس هڅې پراساس موضوع په درې مبحثونو تر وېشلو وروسته څیړلې ده.

## قاعده: "اقامة الحدود ورفع التنازع فی الحقوق یختص الحکام"

ددې قاعدې مفهوم دا دی چې په حقوقو کې د تنازعاتو حلول او حدودو قایمول یوازې حکامو او قضاتو پورې مختص دي.

**لومړی مبحث: د قاعدې اړوندو اصطلاحاتو تعریف**

**لومړی جز: حقوق:** د درجه بندۍ په لحاظ اسلامي علماوو په حقوق الله، حقوق العباد او حقوق المشترکه باندې ویشلي دي چې زموږ د بحث موضوع په کې د حقوق الله (حدودو د تطبیق د باصلاحیته مرجع مشخصوالی) دی

**دویم جز: تنازعات:** د خلکو ترمنځ په حقوقي مسایلو کې شخړې او عدم قناعت یا له شریعي احکامو د سرغړوني هغه موارد چې حدودو ته په کې زیان اوښتی وي او موضوع حکامو ته راجع شوې وي.

**درېیم جز: حدود**: عبارت د انساني اعمالو پروړاندې هغه مشخصې او ټاکل شوې جزاګاني دي چې قاضي یا د وخت حاکم ته یې په کم والي او زیاتوالي کې کوم صلاحیت نشته، بغیر له دې چې په همغه شکل یې تطبیق کړي.

**څلورم جز: حاکم:** هغه شخص ته ویل کیږي چې د اسلامي امت د ټولو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو چارو او ملک د ساتنې په موخه باصلاحیته اقتدار ولري.

**پنځم جز: قاضي:** هغه څوک دی چې حکم کوي.[1]

په دې اړه د الله تعالی قول دی: واذا حکمتم بین الناس آن تحکمو بالعدل. ژباړه: تاسې د خلکو ترمنځ په عدل او انصاف سره پرېکړې وکړئ.

دغه راز حدیث شري هم دی چې د امام وظیفه د حدودو قایمول او د ذکات راټول دي.

**شپږم جز: د پورتنۍ قاعدې مطلب**

حدود چې په ۷ ډوله دي که په کوم شخص یې کوم ډول ثابت شي نو قاضي او رئیس جمهور ددې صلاحیت لري چې حد پرې نافذ او مرتکب یې مجازات کړي، پرته له دې بل څوک ددې صلاحیت نه لري.

**اوم جز: ددې موضوع اهمیت**

له ابوهرېره څخه روایت دی چې له اویاوو سهارونو څخه د یو حد قایمول غوره دي.

**اتم: دې موضوع حکمت**

د حد تطبیقول اصل کې د الله تعالی عبادت دی، یعني د الله تعالی د رضایت لپاره د هغه د احکامو منل په خپل ذات کې د عبادت په معنی دي؛ نو د حد قایمول هم د عبادت موقف لري، دغه راز دا د امت لپاره

---

1- د عدلي حقوقو د اجراتو اصول نامه

رحمت هم دی، یعني په دې سره د خلکو سر، مال او حیثیت خوندي کېږي او څوک بیا ددې جرآت نشي کولی چې په تولنه کې د چا حیاء، مال، سر او یا عفت ته صدمه ورسوي.

**په دې اړه د یو شمېر علماوو نظریات**

امام قرطبي وايي: پدې ټول علماء متفق دي چې قصاص او حدود د اولول آمر (حاکم او قاضي) پورې ځانګړي دي.

دغه راز ابواسحاق الشیرازي هم اشاره کړې چې آزاد خلک حدود نشي قایمولی مګر پاچا او هغه څوک چې د پاچا لخوا د حدودو د قایمولو لپاره ګمارل شوی وي.

ددې خبرې غوره ثبوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د قضاتو د ګمارنې مسله ده چې خپله جناب رسول الله به د ولایت او قضاء په دنده ګماره، ترڅو د خلکو ترمنځ په عدل او انصاف سره فیصلې وکړي.

**دویم مبحث: د حدودو دقایمولو په اړه مثالونه**

**لومړی جز: زنا**

د رسول الله په وخت کې په محصنو خلکو د زنا د حد د تطبیق ۴ قضیې رامنځته شوي چې ټولې یې په سهي معنی عملي شوي دي.

۱- ماعز بن مالک اسلمي چې د زنا په تور، تورن شو او تر زباد وروسته د عامو خلکو پرووړاندې سنګسار کړل شو.[2]

۲- د مسجد ترڅنګ یو یهودی سړی او یهودۍ ښځه چې د زنا تر تور ثابتېدو وروسته پرې د سنګسار حکم عملي کړل شو.

۳- د ماعز په څېر د بني غامد او جهینه قبیلو دوه ښخې چې د زنا د تور تر دقیق ثابتېدو وروسته پرې حکم تطبیق او سنګسار کړل شوې.[3]

۴- د هجرت په ۹ کال د بني غامد د قبیلې یوه ښځه هم د نورو دوو مېرمنو په څېر سنګسار کړل شوه.

**دویم جز: د غلا حد بېلګه**

د رسول الله په وخت کې د بني مخزوم د قبیلې یوه ښخه چې د غلا په تور تورنه شوه او د قضیې تر څېړلو پرې غلا ثابته شوه؛ نو رسول الله یې د لاس پرېکولو حکم وکړ.

دا خلک لاړل او اسامه رضی الله عنه ته یې وویل چې رسول الله ستا له خبرې مخ نه اړوي او زموږ د دې زنانه په اړه ورته سفارش وکړه. کله چې اسامه رضی الله عنه رسول الله ته ورغی او د اړوندې ښځې د سزا د کمولو یې ورته وویل.

---

[2]- سنن ابو داود: ۴۳۹۱، ۴۳۹۲ مخونه.

[3]- صحیح مسلم: ۱۶۹۹، ابن اپي تشیبه پّ المنصف کې. ۶/۵۰۱/۱۰/۱۴۹/۱۴/۱۴۹.

د مسلم په لفظ کې راغلي دي: رسول الله د غله لاس پرې کړ چې قیمت یې درې درهمه و[4]

د رسول الله مخ مبارک له غوسې بل رنګ واوښت او اسامه ته یې وویل چې ته اوس د الله تعالی د حدودو پرووړاندې سفارش کوې. که په دې ډول قضیه کې زما لور بي بي فاطمه هم راشي؛ نو د حد په قایمولو کې به ورسره نرمي ونه شي.

دغه راز عثمان رضی الله په وخت کې یوه ډله غله ونیول شول، کله چې راوستل شول نو د حد د ثبوت څخه وروسته پرې د لاسونو د پرېکولو حکم وشو.

د صفوان بن امیه چې په مسجد کې په خپل څادر ویده و یو غل ترې څادر غلا کړ ده ونیوه او رسول الله ته یې راوست. هغه مبارک پرې د لاس د پرېکولو حکم وکړ.

صفوان وویل چې یا رسول الله زما د څادر په وجه دده لاس پرې کېږي. رسول الله ورته وویل هو، کله چې ماته خبره راورسېده نو اوس به حد تطبیقېږي.

عبدالله بن عمر نه روایت دی چې رسول الله فرمایي: حدود خپلو کې معاف کړئ، یعني اشاره یې دغه د څادر خاوند ته وه، که چېرې ده ورته په همغه ځای کې معافي کړې وه او رسول الله ته یې نه و راوستی نو بیا پرې د حد قایمېدل لازمي کېدل ځکه نه چې حاکم پرې خبرېده نه؛ خو کله چې حاکم په دغسې قضیو خبر کړل شو؛ نو بیا یې تطبیق پر حاکم او قاضي لازمي دي.

**درېیم جز: د ارتداد حد بېلګه**

رسول الله یو ځل حضرت معاذ یمن ته د یو مرتد شوي شخص په قتل پسې ولېږه، کله چې معاذ هلته ورسېد تر هغې تم شو کله یې چې مطلوب شخص قتل کړ، تر هغې وروسته د رسول الله څنګ ته بېرته راوګرځېد.

**څلورم جز: د شرابو په اړه**

د شرابو د حد قایمولو په اړه د علماوو اختلاف نشته خو د دورو د شمېر په اړه بیا یوه خوله نه دي، ځینې یې ۴۰ دورې او ځینې یې بیا د ۸۰ دورو د تطبیق غوښتونکي دي. د حرمت موضوع یې په قران او احادیثو ثابته ده چې کل مسکراً حرام. د حدیثو په کتابونو کې رسول الله فرمایلي دي: من شرب الخمر فاجلدوه ثم ان شرب فاجلدوه، ثم انا شرب فاجلدوه، ثم ان شرب الرابعه فاقتلوه.[5] ژباړه: چاچې شراب وڅښل نو په درو یې ووهئ، بیا یې که وڅښل نو په درو یې ووهئ، بیا که یې وڅښل نو په درو یې ووهئ او که بیا یې وڅښل (په څلورم ځل) وڅښل نو وې وژنئ!.

**پنځم جز: لاره شکوونکو په اړه**

ابن عباس رضی الله عنه فرمایي: که چېرته کوم شخص هم له یو چا د لارې په سر په زور مال واخلي او هم یې ووژني؛ نور لاره شکونکي دې هم ووژل شي او هم ځوړند کړل شي. که چېرته یوازې قتل وکړي؛ نو قاتل دې هم ووژل شي. که یې یوازې مال واخیست؛ نو لاسونه دې ترې پرېکړل شي. او که یې یوازې وېره خپره کړې وه نو له وطنه دې وشړل شي. دا پورته خبرې د قطاع الطریق لپاره حدود دي.

---

[4]- بیهقي سنن الکبری: ۲۷۵/۸.
[5]- سنن ابو داود، ۴۴۸۵مخ.

په دې اړه ابوحنيفه، امام شافعي او امام احمد يوه خوله دي. په دې اړه د مائدې سورت ۳۳ نمبر ايت هم صراحت لري: ..

**دريېيم محبث: د قضاتو ټاکلو صلاحيت**

رسول الله چې کوم خلک واليان لېږل صلاحيت يې هم د قضاء ورکوه؛ لکه معاذ بن جبل، معتل بن سيار، عتاب بن اسيد ابو موسی اشعري او حضرت علي کرم الله وجه د ولايت سربېره پر قضايي دنده هم مامور کړي دي. د رسول الله او حضرت ابوبکر صديق په زمانه کې د قضاء د دندې لپاره مشخص اشخاص (قضات) نه وو ټاکل شوي. دا چاره بيا د حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې د چارو د ګڼوالي پراساس چې ټولو برخو ته د خليفه لاسرسی سخت و، نو مشخص قاضيان په دندو وګمارل شول.

**د تنازعاتو حل**

ابو منصور د بصرې ښار قاضي سوار بن عبدالله ته يو ليک وليکه: د فلاني ځمکې په اړه چې فلاني واکمن او فلاني سوداګې يې په باب شخړه لري ارزونه وکړه او بيا د واکمن په ګټه پرېکړه وکړه او ځمکه هغه ته وسپاره!

سوار بن عبدالله د هغه دليک په ځواب کې داسې ليک ورته وليکه: زه په دې اړه کافي دلايل لرم چې خمکه د سوداګر ده او له کوم دليل او شاهدئ پرته به يې ترې وانخلم.

منصور يو بل ليک ورته واستوه او وې ليکل: قسم په هغه الله چې له هغه پرته بل بل هېڅ معبود نشته، بايد چې هغه ځمکه فلاني واکمن ته ورکړې!

سوار بن عبدالله ی به ځواب کې وليکل: په هغه الله مې دې قسم وي چې له هغه پرته بل هېڅ واکمن او فرياد اورېدونکی هېڅ ډول مشروعيت نلري. هېڅکله به ناحقه توګه هغه ځمکه له هغه سوداګر نه وانخلم. کله چې سوار ليک ابوجعفر منصور ته راورسېده، وې ويل: په الله قسم چې په دې هېواد کې اوس هم څه عدالت شته کله چې مې قاضيان په دې توګه حق منلو ته اړباسي.

دغه راز صلاح الدين ايوبي به ويل: زه د شريعت سر تېرى او خادم يم او دنده مې د هغه پلي کول او ساتل دي.

د السلام جوړښت او طبيعت له دې کبله چې يو نړيوال دين ارسالت او علم او جامع شريعت دی او د داسې طبيعت لرونکي شريعت لپاره اړين دي چې د ژوند ټولو بېلابېل لوري راونغاړي او هېڅ يو لورى يې هم له پامه ونه غورځوي ترڅو يې پروا، بې دينه او فساد خورونکي خلک په خپله خوښه ونکړای شي چې هغه د خپلو ناروا نفساني غوښتنو لوبغاړي وګرځوي.

له بل لوري اسلام خلک د مسووليت د چوکاټ ټاکلو او تنظيمولو ته راوبولي او بې نظمي او ګډوډي په يوه شي کې هم نه خوښوي. تر دې چې د الله رسول صلی الله عليه وسلم موږ ته لارښوونه کوي چې د جماعت په لمانځه کې په منظمو صفونو کې ودرېږي او پخپلو کې دېر عالم امام کړو او د سفر پر مهال مو يو تن امير او مشر وټاکو.

امام ابن تيميه په خپل کتاب السياسيه الشرعيه کې کاږي چې بايد پو شو چې مشر توب او دخلکو د چارو اداره کول له ديني واجباتو څخه يو دی. تر دې چې د دين پرېښنو درول، پلي کول او د نيا اداره کول له دې

پرته ناشوني دي او د انسانانو مصلحت يوازې د ټولنيز ژوند تر چتر لاندې تامينېدلی شي؛ ځکه چې د ټولنې هر وګړی په يو ډول نه يو ډول بل ته اړ دی او دټولنيز ژوندانه لپاره د يوه لارښود او مشر شتون اړين دی، په دې اړه د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې دريو کسانو د سفر هوډ وکړ؛ نو يو دې خپل مشر وټاکي.

امام احمد له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله وفرمايل: روا نه دی چې درې کسان په کومه سارا کې ژوند وکړي او يو کس دې خپل مشر او رئيس ونه ټاکي.

کله چې رسول الله د درې تنو لپاره د مشرۍ ټاکل اړين بولي د يوې ډلې قوم يا سيمې د چارو د ښه تنظيم لپاره به يې څومره اړين بولي.

**پایله**

زموږ د پورتني بحث نچوړ پایله دا ده چې د حدودو د قایمولو لپاره یوازې او یوازې صلاحیت عالي مقام ته ده چې هغه به یا واکمن وي او یا به د قضایي برخې قضایي مامورین وي چې د مسلک او تخصص پراساس تر ټولو عالي وي. ځکه د حدودو پلي کېدل په شریف، سپک، کمزوري باندې واجب دي، معطل کېدل یې په شفاعت، هدیې او همداسې نورو شیانو باندې روا نه دي.

او که چا د توان باوجود دا موضوع معطل کړه نو دغه کس باندې د الله تعالی، د ملایکو او ټولو خلکو لعنت دی. او الله تعلی ترې نه هېڅ شی نه قبلوي او دغه کس د هغه کسانو له کتاره څخه دی چې د الله تعالی په ایتونو سره یې لېږې پیسې اخیستې وي لکه عبدالله بن عمر ضی الله عنه څخه روایت دی: من حالت شفاعته دون حد من حدود الله، فقد ضار الله فی امر ومن خاصم فی باطل وهو یعلم، ثم یزل فی سخط الله حت ینزع. و من قال مسلم دین ما لیس فیه، حبس فی ردعه الخبال، حتی یخرج مما قال. قیل ما رسول الله، وما رغه الخبال، قال عصاره اهل النار.

ژباړه: که چې د الله په حدودو کې شفاعت وکړ نو الله تعالی ته یې د هغه په کار کې زیان رسولی دی او که چا په باطل شي کې لانجه په داسې حال کې وکړله چې پوهېدلو چې په باطله کې دی نو الله تعالی بهتر هغه وخت پورې ورباندې په غصه وي چې دغه لانجه پرېږدي. او که چا د سم مسلمان په هکله داسې څه وویل چې په هغه کې نه وو نو په ردغه الخبال کې به بند پاته شي تر څو له خپلې وینا څخه ووځي. وویل شول: ای د الله استازیه! ردغه الخبال څه شی دی؟ پیغمبر صی الله وسلم وویل: هغه د اور (دوزخ) د خلکو پاته شوي شیان دي. پیغمبر صلی الله وسلم د حاکمانو، شاهدانو او لانجه کوونکو یادونه وکړه او همدغه کسان د حکم (فېصلې) ارکان دي.

له پورته حدیث شریف دا پایله راووځي چې د قضاء چارو ته دې مشخص ادرس او داسې لوړموقفه او باصلاحیته اشخاص ګمارل شوي وي چې نه د بل چا تر اغېزلاندې راشي او نه ترې عدالت مات شي چې دا چاره خپله حاکم او هم قاضي په ښه شکل مخته وړلی شي.

**وړاندیزونه**

- د اسلامي امت د بشپړې ښېرازۍ په موخه ټولو حکامو او قضاتو ته په کار ده چې د حدودو په تطبيق کې له هېڅ ډول تسهل څخه کار وانخلي او پرېنږدي چې له حدودو سرغړوونکي له مجازاتو په امن او د بياځل داسې جرايمو د ارتکاب جرات وکړی شي.

- دغه راز که اسلامي نظامونه غواړي چې په هېوادونو کې يې بشپړ ډول الهي احکام پلي شي او هېڅوک دنظام پروړاندې د سرکشۍ جرآت ونه کړي نو د حدودو تطبيق کې دې جدي اوسي.

- درېم دا ده امت دې هم د حدودو د تطبيق اړوند چارو کې چارواکو او حکامو ته واسطې او ننواتو پرځای ددوی ملاتړ وکړي څو خپلې شرعي پرېکړې په سمه او پياوړې بڼه پلي کړی شي.

ماخذونه

القران

۱- ابن تیمیه شیخ عبدالسلام، ژباړه: عبدالحکیم امل، ۱۳۸۶هـ، میوند خپرندویه ټولنه، کابل.

۲- بیهقي سنن الکبری: ۲۷۵/۸.

۳- د عدلي حقوقو د اجراتو اصول نامه، ۱۳۸۷هـ ش.

۴- سنن ابو داود: ۴۳۹۱، ۴۳۹۲ مخونه.

۵- صحیح مسلم: ۱۶۹۹، ابن اپي تشیبه پّ المنصف کې. ۶/۵۰۱/۱۰/۱۴۹/۱۴/۱۴۹.

۶- ظریفي شیرعلي دکتور ، د حقوقو مبادي، اصلاح افکار خپرندویه اجلال آباد، ۱۳۹۲کال